# د مدينې برکتونه

پښتو

يَثرب طيبه جوړوونکے

د مدينې د خاورې برکتونه

کله چې نَبي د حُضُور نه اجازت اوغوښتو

د حضرت ابو هريره د خوښې درد




پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# د مدينې برکتونه

يا ربَّ المصطفٰی! څوک چې دا رساله ”د مدينې برکتونه“اولولي که واوري. هغوئي د خپل خوږ د ټولو آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنّتو پابند جوړ کړې او هغوئي بے حسابه اوبخښې-

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ شريف پرچه ئې پکار راغله (واقعه)

د قيامت په ورځ به د يو مسلمان نيکئ په ميزان (يعني تَله) کښې کمې شي نو د ګنهګارانو شفاعت کوونکے خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به يوه پرچه را واخلي او د نيکو په چابړي کښې به ئې کيږدي، نو په هغې باندې به د نيکو والا چابړے دروند شي- هغه به عرض اوکړي: زما مور او پلار په تاسو قربان! تاسو څوک ئې؟ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اوفرمائي: زه ستا نبي محمد (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) يم او دا ستا هغه دُرُود دے کوم چې تا په ما وئيلے وو-

(موسوعه ابن ابی دنیا، 92/1، حديث: 79 ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب      صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عاشقِ اکبر په خدمت کښې د تَبې حاضرې

د بُخاري شريف، په حديث نمبر 3926 کښې دي: د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: چې کله حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هجرت اوکړو او مدينې منورې ته ئې تشريف راوړو نو حضرت ابوبکر صديق او (مؤذّنِ رسول) حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهما له تبه راغله- زه د دې دواړو خوا له راغلم

او ما خپل والدِ محترم ته عرض اوکړو: "بابا جانه! تاسو څنګه محسوسوئ؟" هغوئ به دا شعر وئيلو:

كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِيْ اَهْلِهٖ وَالْمَوْتُ اَدْنٰى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهٖ

**ترجمه:** هر ګس د خپل کور والوؤ ترمينځه سحر کوي
ولې مرګ د هغه د بوټانو د تسمې نه زيات نزدې وي
او حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به داسې وئيل:

**ترجمه:** (1) کاش! چې زه چرې بيا يوه شپه د (مکې) په وادئ کښې تيره کړم او زما ګير چاپيره اِذخِر او جَليل نومې ګيا وي- (2) کاش! چې بيا يوه ورځ (په مکه کښې) د مَجَنَّه نومې ځائے چينې ته لاړ شم او شَامَّه او طَفِيل نومې غرونه ليدل مې نصيب شي-

حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: چې کله ما سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په دې باره کښې عرض اوکړو نو هغوئ داسې دعا اوفرمائيله:

اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ اِلَيْنَا الْمَدِيْنَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ اَوْ اَشَدَّ، وَصَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ صَاعِهَا وَمُدِّهَا وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ

يعنې اے الله پاکه! ته مدينه هم زمونږ د پاره د مکې په شان ښکلې جوړه کړې بلکه د هغې نه ئې هم زياته ښکلې کړې او زمونږ د پاره مدينه صحت منده جوړه کړې- زمونږ د پاره دلته په صاع او مُد (يعنې د ناپ او تول په پيمانو) کښې هم برکت واچوې او تَبه د دې ځائے نه جحفه (د يو ځائے نوم) طرفته ته اوګرځوې-"
(بخاری،601/2، حديث: 3926)

مدينہ اِس ليے عطارؔ جان و دل سے ہے پيارا
کہ رہتے ہيں مِرے آقا مِرے سرور مدينے ميں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يَثرب طيبه جوړوونکے

مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو نه مخکښې، مدينه منوره د وباګانو او بيمارو کور وو، د هغوئ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پاک قدم د هغه ځائے نه وباګانې (يعنې بيمارئ) ويستلې او د هغه ځائے خاوره ئې هم شفا جوړه کړه، خوږ آقا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) فرمائي: زمونږه د مدينې خاوره

بیمارانو له شفا ورکوي- (وفاء الوفاء، 69/1۔ مرأۃ المناجیح، 178/2)

د اعلیٰ حضرت ورور، مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

نہ ہو آرام جس بیمار کو سارے زمانے سے اُٹھا لے جائے تھوڑی خاک اُن کے آستانے سے

## مديني ته اوس يثرب نشئ وئيلے

اعلیٰ حضرت امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: مديني منورې ته يثرب وئيل نا جائزه او منع دي او د ګناه کار دے او ويوونکے ګنهګار دے- رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې: څوک چې مديني ته يثرب اووائي د هغه د پاره توبه واجب ده- مدينه طابه ده، مدينه طابه ده-

( مسند امام احمد، 409/6، حديث: 18544۔ فتاویٰ رضويه، 116/21)

علامه مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د دې حديث نه معلومه شوه چې د مديني طيبې يثرب نوم کيښودل حرام دي چې په يثرب وئيلو (رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) د استغفار حکم اوفرمائيلو او اِستغفار په ګناه باندې کيږي- (التيسير شرح جامع الصغير، 424/2)

امام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل تاريخ کښې اوفرمائيل چې څوک مديني ته يو ځل "يثرب" اووائي هغه دې د کفارې په طور لس ځله "مدينه" اووائي- (تاريخ کبير، 62/6، حديث: 8282) خليفۀ اعلیٰ حضرت مولانا جميل الرحمان رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نعتونو په خپل کتاب "قبالۀ بخشش" کښې څومره په ښکلي انداز کښې د مديني ذِکر کوي:

يارب مِرے دِل میں ہے تمنائے مدینہ اِن آنکھوں سے دِکھلا مجھے صحرائے مدینہ

کیوں طیبہ کو یثرب کہوں ممنوع ہے قطعاً موجود ہیں جب سیکڑوں اَسمائے مدینہ

یاد آتا ہے جب روضۂ پُر نور کا گنبد دِل سے یہ نکلتی ہے صدا ہائے مدینہ

ایسا مِری نظروں میں سما جائے مدینہ جب آنکھ اُٹھاؤں تو نظر آئے مدینہ

بُلوا کے مدینے میں جمیل رَضوی کو

سگ اپنا بنا لو اِسے مولائے مدینہ

(قبالۂ بخشش، ص 233 تا 235)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## تَبې اِجازت اوغوښتو

حضرت بي بي اُمِّ طارق رضی الله عنها فرمائي چې: د الله پاک خوږ نبي صلی الله علیه واله وسلم د حضرت سَعد رضی الله عنه کور ته تشريف راوړلو او کور ته د ننوتو اجازت ئې اوغوښتلو، (سلام ئې اوکړلو) حضرت سَعد رضی الله عنه خاموشه پاتې شو، بيا هم داسې اوشو بيا حضرت سَعد رضی الله عنه خاموشه پاتې شو، چې کله په دريم ځل هم حضرت سَعد رضی الله عنه خاموشه پاتې شو نو چې کله نبي کريم صلی الله علیه واله وسلم واپس تشريف وړلو نو حضرت سَعد رضی الله عنه زه اوليږلم او اوئې فرمائيل: زه (حضور صلی الله علیه واله وسلم ته) د جواب ورکولو نه هيڅ څيز منع نه کړم بلکه ما دا غوښتل چې تاسو صلی الله علیه واله وسلم په مونږ باندې نور سلام اِرشاد اوفرمائيئ، (يعني د سلامتيا نوره دعا اوکړئ،) (1) بيا حضرت بي بي اُمِّ طارق رضی الله عنها فرمائي چې: په دې وخت کښې ما په دروازه کښې آواز واوريدو چې څوک د دننه راتلو اجازت غواړي خو ښکاري نه، د الله پاک په عطا سره د غيبو خبرونه ورکوونکي خوږ آقا صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائيلو: ته څوک ئې؟ نو هغې عرض اوکړو: زه اُمِّ مِلدم يم ( دا د تَبې کُنيت دے-) حُضُور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائيلو: ستا د پاره هيڅ هر کلے نشته، ته د قُبا والوو طرف ته لاړه شه- هغې عرض اوکړو: ټيک ده جي، بيا هغه د هغوئي په لور لاړه- (دلائل النبوه للبيهقى، 158/6) په يو روايت کښې دي چې کله هغوئي صلی الله علیه واله وسلم د هغې نه پوښتنه اوکړه چې ته څوک ئې؟ نو هغې عرض اوکړو چې زه تَبه يم، غوښه خورم او وينه څکم- (فيض القدير،231/2، حديث: 1617)

(دغه تَبه په قُبا والوو باندې شپږ ورځې او شپږ شپې وه) هغه حضراتو د الله پاک د رحمت والا نبي صلی الله علیه واله وسلم په خدمت کښې د تَبې په باره کښې عرض اوکړو او د هغوئي حال دا وو چې د هغوئي مخونه زيړ شوي وو، هغوئي صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائيل: چې که چرې تاسو غواړئ نو زه به ستاسو د پاره الله پاک ته سوال اوکړم چې هغه دا ستاسو نه لرې کړي او که چرې تاسو غواړئ نو دا پريږدئ دا به ستاسو نور ګناهونه وَرژَوي؟ هغوئي عرض اوکړو: يا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم! بيا دا پريږدئ- (الترغيب و الترهيب، 153/4، حديث: 81)

## د غلامانو تپوس

د غم ځپلو غم لرې کوونکے د ښه اخلاقو مالک آقا صلی الله علیه واله وسلم (د قُبا والوو په عرض کولو باندې) به د يو يو کَس کور ته تللو او د هغوئي د پاره به ئې د عافيت دُعا کوله، چې کله هغوئي صلی الله علیه واله وسلم واپس

---

۱... دا کور ته د ننوتو د اجازت سلام وو د دې جواب ورکول واجب نه دے-

تشریف راوړلو نو په هغوئي کښې یوه زنانه په هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې شاته شاته راروانه وه او عرض ئې اوکړو: ستاسو دې په هغه الله پاک باندې قسم وي چا چې تاسو رښتونے نبي رالیږلے ئې! زه هم د انصارو نه یم تاسو زما د پاره هم هغه شان دُعا اوکړئ، څنګه چې مو د اَنصار (صحابهٔ کرامو علیہمُ الرِّضوَان ) د پاره کړې ده، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: که اوغوارې نو چې زه ستا د پاره دعا اوکړم چې الله پاک تا ته عافیت عطا کړي او که چرې اوغوارې نو (ته) صبر اوکړه نو (بیا) ستا د پاره جنت دے! په دې باندې هغې عرض اوکړو: چې زه صبر کووم او زه په جنّت باندې یو څیز ته هم ترجیح نه ورکووم- (الادب المفرد، ص 132، حدیث: 502) د الله رُبُّ العِزَّت دې په هغوئي ټولو باندې رحمت وي او د هغوئي په وسیله باندې دې زمونږه د ټولو بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اِجابت کا سہرا عنایت کا جوڑا
دُلہن بن کے نکلی دُعائے محمد

اجابت نے جھک کر گلے سے لگایا
بڑھی ناز سے جب دعائے محمد

(حدائقِ بخشش،ص 66)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب        صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## غوثِ اعظم تَبه اوتختوله

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک زمونږه غوثِ اعظم حضرتِ شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ له بے شمیره کمالونه ورکړي دي، د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خِدمت کښې ابو المعالي احمد مظفر بن یوسف بغدادي حنبلي حاضر شو او اوئې وئیل چې زما د ځوي "محمد" د تیرو پینځلسو میاشتو نه تبه ده- هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ اوفرمائیل: لاړ شه او د هغه په غوږ کښې اووایه "اے اُمِّ ملدم (دا د تَبې کُنیت دے)! تا ته عبد القادر (رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ) فرمائي چې: زما د ځوي نه لاړه شه-" هغه اووئیل چې څنګه ما ته شیخ رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ حکم کړے وو، ما هم هغه شان اوکړل نو د هغې ورځې نه پس کله هم تَبه واپس رانغله- په بارګاهِ غوثیت مآب کښې اوسیدونکو د هغه نه دوه کاله

پس د ماشوم د تَبې په باره کښې پوښتنه اوکړه نو اوئې وئيل چې د هغې ورځې نه پس پرې تَبه بيا چرې هم نه ده راغلې- (بهجة الاسرار، ص 153)

وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ کا ہے سایہ تجھ پر بول بالا ہے تیرا ذِکر ہے اُونچا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص28)

## تَبه او طَاعون

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام زما خوا له تَبه او طاعون راوړو، ما تَبه په مدينه کښې حِصاره کړه او طاعون مې د شام طرف ته اوليږو- ځکه طاعون زما د اُمَّت د پاره شهادت او په کافِر باندې عذاب دے- (مسند امام احمد، 393/7، حديث: 20793)

## په دوو رِوايتونو کښې مناسبت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مسجدِ قُبا شريف په اَبِ مدينهٔ پاک کښې شامل دے ولې مخکښې مسجدِ قُبا په مدينهٔ پاک کښې شامل نه وو، په بره بيان شوي حديثِ پاک او په دې روايت کښې د مناسبت بيانولو سره حضرت علامه جلالُ الدين سيوطي شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي چې: (په يو روايت کښې دي چې تَبه د مدينې نه قُبا طرف ته اوګرځولے شوه او په بل روايت کښې دي چې تَبه په مدينه کښې حِصاره کړے شوه) دلته په حديثونو کښې تطبيق (يعني مناسبت بيانول) ضروري دي ځکه چې په ظاهره باندې دا حديث د مخکښيني حديث مخالف دے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: په ما باندې دلته دوه خبرې ظاهرې شوې: (1) د ټولو نه مخکښې چې کله نبئ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدينهٔ پاک ته تشريف راوړو او په خپله دُعا مبارکه باندې ئې تَبه "جحفه" او "خَمّ" طرف ته اوګرځوله نو د دې جواب دا دے چې کله جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام دا دواړه بيمارئ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وړاندې کړې نو ضروري وه چې په مدينهٔ پاک کښې يوه پاتې شي نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَبه اختيار اوفرمائيله او طاعون ئې د شام طرف ته اوليږو ځکه چې د تَبې نقصان د طاعون په مقابله کښې کم دے ځکه تَبه مدينهٔ پاک ته حاضره شوه او بے شکه د رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د (ظاهري) وفات شريف نه مخکښې تَبه حاضره شوې وه او اُمُّ المؤمنين حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له په واقعه اِفک کښې تَبه راغلې وه او صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان له هم تَبه راغلې وه خو طاعون هيڅکله هم (مدينه کښې) رانغلو دغه وجه زما په نز زياته مضبوطه ده- (2) دويمه وجه زما په نز دا ده چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کومه تَبه د

مديني منورې نه لرې فرمائيلې وه هغه يو خاص قِسمه تَبه وه کومه چې ډيره سخته هلاکوونکې تَبه وه هغه ئې د جحفه په لور اوګرځوله نه چې مکمل طور تَبه ئې لرې فرمائيلې وه- (کشف الغمی فی فضل الحمی،ص 5-6 ملخصاً)

## جحفه چرته ده

حضرت علامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: جحفه د مکې او مديني ترمينځه د شام په لور ده- د جحفه معنیٰ ده د سيلاب بهيدل، دلته يو ځل ډير زيات سيلاب راغلے وو ځکه ئې جحفه نوم شو، اَصلي نوم ئې "مهيعه" دے دا "مهيعه" نومې يو ګس آباده کړې وه- (مرقات المفاتيح، 390/5، تحت الحديث: 2516)

## تور رنګ والا زنانه

صحابي ابنِ صحابي، جنتي ابن جنتي حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهما فرمائي چې: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مدينهٔ پاک په باره کښې خوب اوليدلو او اوئې فرمائيل چې ما يوه توره، د را ببرو شوؤ ويښتو والا زنانه اوليدله چې د مديني نه اووتله تر دې پورې چې په مهيعه کښې راکوزه شوه، ما د دې تعبير دا واخستو چې د مديني منورې وبا د مهيعه طرف ته اوګرځيده، مهيعه د جحفه نوم دے-

(بخاری، 422/4، حديث: 7039)

په يو روايت کښې دي چې يو ګس د مکې نه مديني ته راغلے نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ګس ته اِرشاد اوفرمائيلو: آيا تا په لاره کښې څوک اوليدل؟ هغه عرض اوکړو: د يو تور رنګ والا زنانه، ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغه تَبه وه او هغه به د نن نه پس چرې هم بيرته (مديني ته) نه راځي-

(شرح الزرقانی علی مؤطا،309/4، تحت الحديث: 1714)

## برکت والا تَبه

امام سمهودي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: اوس چې کومه تَبه په مدينه منوره کښې موجوده ده دا بيمارئ والا تَبه نه ده بلکه دا زمونږه د رَبِّ رحمت دے او زمونږه د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا په وجه باندې د ګناهونو ختمولو والا ده- (فيض القدير،14/4، تحت الحديث: 4388)

**اے عاشقانِ رَسُول!** د دوارو جهانونو رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله مديني منورې ته تشريف راوړلو نو زمونږه خوږې مور جانې حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْها او ډيرو صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان له تَبه راغله، د

سردارِ مکۂ مکرمه، سرکارِ مدینۂ منوره صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې دُعا دا اثر اوشو چې نن د ټول عرب شریف بلکه داسې اووائیئ چې په ټوله دنیا کښې د آب و هوا سره سره په هر قسم سره مدینه منوره ''بهترین ځائے'' دے- بلکه دلته خو په خاوره کښې هم شفا او برکت دے-

## د مدینې منورې د خاورې برکتونه

په جذبُ القُلُوب کښې دي: الله پاک د مدینې منورې په خاوره او میوو کښې شِفا ایښودې ده او په ډیرو حدیثونو مبارکو کښې راغلي دي چې د مدینې منورې په خاوره کښې د هر مرض شِفا ده او په بعضې حدیثونو مبارکو کښې دي چې ''**مِنَ الْجُذَامِ وَ الْبَرَصِ** '' یعني د ګوزن او برَګي د شِفا ذِکر دے او په بعضې ''اخبار'' کښې د مدینې د یو خاص ځائے ''صُعَیب'' (عوام دې ځائے ته ''خاکِ شِفا (یعني د شِفا خاوره)'' وائي) ذِکر دے په بعضې روایتونو کښې دي چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بعضې صحابۂ کرامو ته حکم اوفرمائیلو چې هغوئي په دې خاوره د تَبې علاج اوکړي- د بُزرګانو نه د دې خاص ځائے ''صُعَیب'' د خاورې مبارکې د علاج حکایتونه هم میلاویږي- (جذب القلوب، ص 27 ملخصاً )

امام ابنِ بَطّال رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: خوک چې په مدینه منوره کښې وي هغه د دې د خاورې او باغونو داسې خوشبوئي بیامومي کومه چې د دې ځائے نه علاوه په بل یو ځائے کښې هم نه وي-

(شرح الزرقانی علی مؤطا، 308/4، تحت الحدیث: 1714)

کوڑیوں کوڑھیوں کے لیے کوڑھ دُور
اچھا چنگا وہ خاصہ بھلا کر چلے

## د ټول کال تَبه په یوه ورځ کښې لاړه

حضرت شیخ مَجدُ الدِّین فیروز آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: زما د غلام ټول کال تَبه وه، ما د (صُعَیب ځائے (یعني د ''خاکِ شِفا (د شِفا د خاورې)'' نه) د مدینې خاوره واخستله او په اوبو کښې مې (لړه شان) ګډه کړه او په هغه مې اوڅکله، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! هم په هغه ورځ ورته شِفا میلاؤ شوه- (جذب القلوب، ص 27) (اَفسوس! هغه مُبارک

ځائے اوس پټ کړے شوے دے، بعضې وخت عاشقان هغې ته اودانګي او "خاکِ شِفا" حاصلوي، خو انتظاميه ئې بيا د ډامَر وغيره اچولو سره بند کړي-)

اے خاکِ مدینہ! ترا کہنا کیا ہے
تجھے قُربِ شاہِ مدینہ مِلا ہے

شَرَف مصطفٰے کے قدم چُومنے کا
تجھے بارہا خاکِ طیبہ مِلا ہے

مُعَطَّر ہے کتنی تُو خاکِ مدینہ
کہ خوشبوؤں سے ذرّہ ذرّہ بسا ہے

لگاؤ تم آنکھوں میں خاکِ مدینہ
کوئی اِس سے بہتر بھی سُرمہ بھلا ہے!

مریضو! اُٹھا کر کے خاکِ مدینہ
کولے جاؤ! اِس میں یقیناً شِفا ہے

مدینے کی مٹّی ذرا سی اُٹھا کر
پیو گھول کر ہر مَرَض کی دَوا ہے

عقیدت سے خاکِ مدینہ بدن پر
مَلو تُم ہر اِک دَرد کی یہ دَوا ہے

ہمیں موت خاکِ مدینہ پر آئے
اِلٰہی! یہ تجھ سے ہماری دُعا ہے

مِری نَعش پر آپ خاکِ مدینہ
چھِڑکنا مرے ساتھیو! اِلتجا ہے

پسِ مَرگ مولیٰ تُو مٹّی ہماری
ملا خاکِ طیبہ میں یہ اِلتجا ہے

بدن پر ہے عطّاؔر کے خاکِ طیبہ
پَرے ہٹ جہنّم ترا کام کیا ہے

(وسائلِ بخشش ص 465)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د الله پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بَرَکت سره مدينه منوره برکتي جوړه شوه، د دې ځائے نه خطرناکه تَبه لرې شوه او دا ښار "د سلامتيا والا ښار" جوړ شو، خو البته عمومي تَبه او بيماري په مدينه کښې پريښودے شوه ځکه چې دا د الله پاک په رحمت سره ګناهونه ختموي او درجې اوچتوي- هم دا وجه ده چې بعضې صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان چې د تَبې فضيلتونه واوريدل نو آرمان ئې اوکړو

چې هغوئي ته هم دا فضيلت حاصل شي-

## تَبه ئې اوغوښتله

حضرت اُبَي بن کعب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې: ما په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو چې "د تَبې اَجر او ثواب څه دے؟" ارشاد ئې اوفرمائيلو: چې تر څو پورې چې د تَبې والا ګس په ښپو باندې رېچ (د تبې د لاسه رږيدل) شروع وي او هغه په خولو کښې ډوب وي هغه ته نيکئ ميلاويږي- ما چې دا واوريدل نو د الله پاک په بارګاه کښې مې دعا اوکړه چې: "اے پروردګاره! زه ستا نه د داسې تَبې سوال کووم کومه چې ما ستا په لاره کښې د جهاد، ستا د کور د حج او د جُمعې سره د لمونځ ادا کولو د پاره مسجد نبوي ته د تللو نه منع نه کړي-" راوي وائي چې: "د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا دعا داسې قبوله شوه چې د دې نه پس به د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هر وخت تَبه وه-"

(معجم کبير، 200/1، حديث: 540)

## هميشه په تَبه کښې د اوسيدو دُعا

چې کله رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا اوفرمائيل چې: "تَبه د ګناهونو کفاره ده-" نو حضرت زيد بن ثابت رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هميشه په تَبه کښې د اوسيدو دُعا اوکړه- هم داسې د وفات کيدو پورې د هغوئي تَبه وه (قوت القلوب، 49/2) بعضې انصاري صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان هم دغه دُعا اوکړه نو هغوئي هم (د وفات کيدو پورې) د تَبې په حالت کښې وو- (قوت القلوب، 49/2) د الله پاک دې په هغوئي ټولو باندې رحمت وي او د هغوئي په وسيله باندې زمونږه بے حسابه بخښنه-

اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِيۡن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د تَبې او د سر د درد ثواب

د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے چې: په يو ګَس باندې د سر درد او تَبه راشي او د هغه ګناهونه د اُحُد غر همره وي، بيا چې کله دا د هغه نه جدا شي نو د هغه په ګناهونو کښې لږه (ګناه) هم نه وي پاتې- (شعب الايمان، 176/7، حديث: 9903)

حکيمُ الاُمّت مفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ فرمائي چې: نورې بيمارئ يو يا دوؤ اندامونو ته وي خو تَبه د سر نه تر ښپو پورې په هر رګ اثر کوي، ځکه به دا د ټول بدن خطاګانې او ګناهونه معاف کوي- (مرآة المناجيح، 413/2)

په يو روايت کښې دي چې: مومن بنده چې بيمار شي تر دې پورې چې دا بيماري هغه د ګناهونو نه پاک کړي- (شعب الايمان، 166/7، حديث: 9863)

## د خوښې درد

حضرت ابو هُريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اِرشاد فرمائي چې: زما د تَبې د درد نه زيات بل يو درد خوښ نه دے ځکه چې دا د انسان هر يو جوړ (پيوند) ته ننوځي او بے شکه الله پاک د دې اَجر د بدن هر يو اندام ته د هغې د درد د مقدار برابر ورکوي- (مصنف ابن ابی شيبہ، 99/7، حديث: 10922)

## لس ورځې په تَبه کښې د تيرونکي شان

په يو بل روايت کښې دي چې: د چا درې شپې تَبه وي (يعني درې شپې په تَبه کښې تيرې کړي) هغه د ګناهونو نه داسې اووتلو لکه څنګه چې د خپلې مور د ګيډې نه وتلے وو او د چا چې لس ورځې تَبه وه نو د آسمان نه اعلان کولے شي چې بے شکه ستا تير ګناهونه اوبخښلے شو خپل عمل بيا شروع کړه-

(کنز العمال،جزء: 3، 132/2، حديث: 6766)

## د غوثِ پاک په مُريد جوړيدو کښې د ځنړ نه کار مه اخلئ

د يو څو کلونو مخکښينئ واقعه ده چې يو ځلمي د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول خپل کړو، يو څو ورځې پس د هغه واده وو چې د هغه تَبه شوه، بهر حال هم د داسې ناروغتيا په حالت کښې د هغه واده اوشو- د وليمې په دستوره کښې هم هغه خوار ناروغه وو- د واده نه پينځه يا اووه ورځې پس هغه وفات شو- هغه وخت مدني چينل نه وو، د اميرِ اهلِسُنّت د آډيو بيانونو کيستې به د مکتبۃالمدینہ نه ھدیۃً ميلاويدلې- هغه ځلمي به د اميرِ اهلِسُنَّت بيانونه ډير زيات اوريدل او په آخري وخت کښې به ئې هم د اميرِ اهلِسُنَّت بيان لګولو، اميرِ اهلِسُنَّت چې کله د هغوئي د کور والوؤ سره د غمرازئ د پاره تشريف يوړلو نو کور والوو ئې اووئيل چې ده به ستاسو بيان بيا بيا اوريدلو او ستاسو په ذريعه د حضورِ غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د مريد جوړيدلو ئې وئيل خو د کلمې او استغفار او توبې سره هغوئي ساه ورکړه- (آډيو بيان: څلور مدني ګلونه) الله کريم! دې د مرحوم بے حسابه بخښنه نصيب کړي-

**اے عاشقانِ رَسُول!** د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په مُريد جوړيدو کښې هيڅ نقصان نشته، صرف فائده ده چې د الله والوو نسبت په دنيا او آخرت کښې فائده ورکوي- د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په سلسله کښې د

شامليدو د برکتونو لوستلو د پاره د اميرِ اهلِسُنَّت رساله "مُنّے کی لاش" اولولئ- البته ستاسو د ترغيب او تحريص د پاره د غوثِ پاک د يو مُريد يو داسې مدني سپرلے وړاندې کولے شي چې د لوستو سره به ئې تاسو خوشحاله شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

## د غوث او د رضا د عاشق مدني سپرلے

په لانډهي (کراچئ، پاکستان) علاقه کښې د غوثِ پاک يو عاشق وو د چا نوم چې "غلام نبي قادري" وو، هغه د مسلکِ اعلىٰ حضرت او غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په نسبت ډير کلک ولاړ وو- يو ځل په لانډهي کښې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سُنّتو نه د ډک بيان په لړ کښې اجتماع وه- غلام نبي قادري د تبې په حالت کښې هم په ګاډو کښې تللو او خلقو ته به ئې د نيکئ دعوت ورکولو- کله چې د بيان وخت راغلے نو هغه څادر د ځان نه تاؤ کړو او د بيان اوريدو د پاره کښيناستو- دوه ورځې پس اميرِ اهلِسُنّت ته خبر ميلاؤ شو چې هغه عاشق وفات شوے دے- هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نيمه شپه د هغوئي کور ته تشريف يوړلو، اميرِ اهلِسُنَّت فرمائي چې: ما ډير مَړي ليدلي دي- خو داسې ښکلے او روښانه مخ ما چرې هم نه دے ليدلے، د ګل په شان سپړدلے نوراني مخ لکه چې اوس اوس اوده شوے دے- د ډيرو عاشقانِ رسول بيان دے چې داسې نه ښکاريده چې دا مړے دے بلکه داسې په آرام ملاست (انسان) دے لکه چې اوده وي- د هغه نه ګير چاپيره اسلامي ورونړو نعتونه وئيل- اميرِ اهلِسُنّت فرمائي چې: داسې ښکاري چې هغه مقابله ګټلې ده- د الله پاک دې په هغوئي باندې رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

تمهیں لطف آجائے گا زندگی کا قریب آکے دیکھو ذرا مَدنی ماحول
سَنور جائے گی آخِرت اِن شاءَ الله تم اپنائے رکھّو سدا مَدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان

ما ته د يو داسې کلي طرف ته (د هجرت کولو) حکم اوشو کوم چې به ټول کلي اوخوري (يعني په ټولو باندې به غالب شي) خلق هغې ته "يَثرب" وائي او هغه مدينه ده، (دا کلے به) خلق داسې پاک او صفا کړي لکه څنګه چې بهټۍ د اوسپنې نه زنګ۔

(بخاري، 1/617، حديث: 1871)

عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پراڼي سبزي منډي کراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net